**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د کورني د جوړښت او د هغه د ساتنی لپاره بنسټونه**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: « وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ» ژباړه:« او د هغه له نښانو څخه (بله) دا ده چي ستاسي لپاره، همدا ستاسي له جنس څخه یې میرمني پیدا کړې، تر څو چي تاسي له هغو سره ارام تر لاسه کړئ او ستاسي (ښځي او خاوند) په منځ کښي یې مینه او خواخوږي پیداکړه. په باوري ډول پدې کښي د هغو خلکو لپاره ډیري نښانې دي چي غور او فکر کوي» او زه گواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مگر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه گواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملگرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

د انسان په ژوند کې د کورنی د جوړښت ساتنه د الله جل جلاله د لویو نعمتونو د جملي څخه گڼل کیږي او الله جل جلاله پخپلو بندگانو باندي دا احسان کړی دی چې دغه لوي نعمت یی ورکړي دي او پخپل لوي کتاب قرآن کریم کې داسی فرمایلي دي:« وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ ۚ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ اللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ» ژباړه:« او الله ستاسي لپاره ستاسي له خپل جنس څخه میرمني وگرځولې او همغه له دغو میرمنو څخه تاسي ته زامن او لمسي درکړیدي؛ او ښه ښه خوراکي مواد یې درپه برخه کړيدي. ایا نو دغه خلك (ددې هر څه له لیدلو او پرې پوهېدلو سره هم) باطل مني او د الله له پېرزويني څخه انکار کوي».

کورنۍ د ټولن بنسټ گڼل کیږي او د ټولني د ساتني لپاره لومړنی کلا ده نو د همدي لپاره د اسلام مبارک دین د هغه د جوړښت او د پیاوړتیا لپاره ډیره پاملرنه کړی ده ځکه چي په ترڅ کې مینه او محبت رحمت د ټولو وگړو ترمنځ رامنځته کیږي او امنیت برقراري ټولني ته ورکوي په اسلامي شریعت کې د کورني جوړښت ته ډیره پاملرنه شوی ده ځکه چې پدي ترڅ کې د کورني جوړښت له کبله د ټولني برقراری رامنځته کیږي همدارنگه د کورنۍ د مسئولیت د خه پرمخ وړلو لپاره چي پدي کي مالي ټولنیز او نفسی اړخونه راځي هم پاملرنه کړي ده لکه چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ای ځوانانو څوک چې په تاسو کې د نکاح توان لري نو هغه د نکاح وکړي ځکه چې پدي سره د هغه د سترگو او د هغه د فرج ساتنه کیږي او څوک چي  دد توان نلري نو هغه د روژه ونیسي ځکه  چې روژه د هغه لپاره ددی لامل کیږي چې هغه د گناهونو څخه وساتي.

همدارنگه د اسلام مبارک دین د اولادونو په روزنه کې چې په خه ډول وروزل شي ټینگار یی کړی دی او همدارنگه خپلو اولادونو په روزنه کې باید دیني اړخونه او همدارنگه ټولنیز او هیوادوني اړخونه باید په نظر کې ونیول شي ځکه چې پدي ترڅ کې د پیاوړي کورنۍ جوړښت رامنځته کیږي او همدارنگه دیني او ټولنیز ارزښتونه پري پیاوړی کیږي او د اولادونو په نفسونو کې هغه دودونه او عادتونه چې گټور دي باید ورته وښودل شي دا د مور

او پلار په غاړه باندي یو امانت دي چې باید ترسره کړي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ» ژباړه:« اې مؤمنانو! خپل ځانونه، خپل اولاد او کورنی له هغه اور څخه وژغورئ چې د سون مواد به یې انسانان او تیږي وي؛ » همدارنګه نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې یقینا الله جلاله به د هر هغه چا څخه پوښتنه وکړي چې د خپل لاس لاندي کارونه یی په سم ډول سرته رسولي او که نه آیا د هغه ساتنه یی کړي او که ضایع کړي دي او د سړي څخه به د هغه د کورني په هکله پوښتنه کیږي همدارنګه نیک اولادونه د دی لامل کیږي چې د مور او پلار لپاره په دنیا او آخرت کې ګټور تمام شي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا» ژباړه:« ای ربه مونږ مونږ ته له خپلو میرمنو او اولادونو څخه د سترګو رڼا راکړه او مونږ د پرهیزګارانو امامان کړه» هدارنګه نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي کله چې یو څوک مړ شي نو د هغه څخه ټول عملونه پری کیږي مګر دری شیان: یو صدقه جاریه بل هغه علم چې ګټور وي او نیک اولاد چې د هغه لپاره دعاء وغواړي.

همدارنګه نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: په خلکو کې غوره هغه که سړي وي او که ښځه غوره هغه څوک دي چې د خپلي کورني لپاره غوره وي لکه چې فرمایی: چې په تاسو کې غوره هغه څوک دي چې د خپل کورني لپاره غوره وي او پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپلي کورني لپاره د غوره شخصیتونو د جملي څخه وو خه خاوند خه پلار خه نیکه وو او څوک چې د خپلي کورني لپاره غوره نه وي نو هغه کې هیڅ خیر او ښیګڼه نشته.

******

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

د اسلام مبارک دین د کورني د جوړښت لپاره هڅونه کړی ده او پداسی ډول سره چې هغه یو له بل سره تړل شوی ده او په مینه محبت احترام باندي باید ولاړ وي او څوک چې قرانکریم کې فکر وکړي وبه ګوري چې ښځي ته یی د زوج لفظ استعمال کړي دی او په قرانکریم کې د زوجه لفظ ندي استعمال کړي او قرانکریم دا پریکړه ددی لپاره کړي ده چې لفظي او لغوي برابروالي پري رامنځته شي او پدي کې معنوي اړخ ته هم اشاره کیدلی شي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ»ژباړه:« هغوی ستاسي جامه او تاسي د هغو جامه یاست.»، او بیا فرمایی:«وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ»ژباړه:« د ښځو لپاره هم په نېکه توګه هماغسي حقوق دي، لکه څنګه چي د نارینه ؤ پر هغو حقوق دي.» او بیا فرمایي:«لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبْنَ» ژباړه:« د نارینه ؤ برخه د هغو له کړنو سره سمه او د ښځو برخه د هغو له کړنو سره سمه ده.»، همدارنګه نبي کريم

صلی الله علیه وسلم د حجةالوداع په ورځ باندې د جمعه په خطبه کې وویل: خبردار چې ستاسو پخپلو ښځو باندې حقونه دي او د ښځو په تاسو باندې حقونه دي.

نو د خاوند او ښځې ترمنځ د مینې محبت رحمت حقونو او د تبادلو واجباتو په ترڅ کې کورنۍ رامنځته کیږي چې د هر ډول غلبې څخه باید لرې وي او کورنۍ ژوند ترهغه نه برابرېږي چې په هغه کې غلبه او قهر رامنځته کیږي بلکې د مینه محبت او متبادل احترام په ترڅ کې رامنځته کیږي او ټول اړخونه هڅه پدې باندې وکړي چې خوښي رامنځته کړي او د ننګونو مخنیوي وکړي ابودردا رضي الله عنه خپلې میرمنې ته ویل کله چې ته ما وګورې غصه یم نو ما راضي کوه او کله چې زه تا وګورم غصه یې نو تا راضی کوم او که نه نو ژوند ستوزمن دی.

نو مونږ او تاسی ټول دیته اړتیا لرو چې کورنۍ پداسې ډول رامنځته کړو چې آرامتیا خوشحاله او برقراره وي ترڅو په دنیا او آخرت کې خوښي رامنځته شي.

ای ربه مونږ ته له خپلو میرمنو او اولادونو څخه د سترګو رڼا راکړه او مونږ د پرهیزګارانو امامان کړه.